بسم الله الرحمن الرحیم

# د فقهي مذهبونو منځ ته راتګ او د اختلاف اسباب يې

**د کنفرانس موضوع**

**۷-ثور-۱۴۰۴ ه ش**

- الحمدلله رب العلمين والصلوة و السلام علي سيد المرسين و علي آله و أصحابه أجمعين.اما بعد! فاعوذبالله من الشيطن الرجيم..........
- «وَ منْ آياته، خَلْقُ السَّموَاتِ وَ الأَرْضِ، وَاخْتِلافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَ أَلْوَانِكُمْ» الروم آيه22
- «إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاء فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ» البَقره 164

# لنډیز

- د فقهي مذهبونو منځ ته راتلل او دفقهاوو ترمنځ په فرعي موضوعاتو اختلاف یو حقیقت دی چې ټول مسلمانانو قبول کړی. همدغه فقهي مذاهب ولي راپیدا شول؟ او د هغوي ترمنځ د فرعي فقهي مسایلو په سر اختلافاتو اسباب او علتونه پیژندل یوه اړینه موضوع ده چې باید موږ یې و پیژنو.
- د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وفات څخه وروسته د صحابه کرامو ترمنځ په ځیني فقهي موضوعاتو کې د خاص اسبابو په خاطر اختلافات رامنځ ته کیده خو چې کله به حقیقت معلوم شو هغوي به هماغه ډیر ژرقبول کړ او له خپل دید او نظر څخه به و ګرځیدل.
- د صحابه کرامو په وروستیو وختونو کې دوه نظریاتي مدرسی او فکري منهجونه د مسلمانانو ترمنځ رابنکاره شول چې یوه د کوفي مدرسه د اهل رأیه او بله د مدینی منوری مدرسه د اهل حدیثو مدرسه وه.

- د کوفی د مدرسی سرلاری جلیل القدر صحابي ( عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما) او د مدینی منوری د مدرسی استاد عبدالله ابن عمر او زید ابن ثابت (رضی الله عنهما) وو، د هغوي سره جوښت او جوړه تابعین او بیا تبع تابعین (رحمهم الله) سعید ابن مسیب او ابراهیم النخعي د همدغو استادانو په پل پلونه او قدمونه کیښودل، همدغه حرکتونه او دیدګاه ورځ تر بلی قوي کیدلی، امام ابوحنیفه (رحمه الله) په عراق او امام مالک(رحمه الله) په مدینه منوره کې را څرګند او هر یو د خپلې منطقی او ښار په علماوو او پیشوایانو پسی اقتداء وکړه، بلاخره د همدغه دوه مذهبونو د منځته راتلو لاری هواری شوې.

- هغوي چې د مدینی منوری په ماحول کې اوسیدل دلته د احادیثو په زیاته پیمانه سره موجودیت او د یو زیات تعداد صحابه موجودیت د دې باعث شول چې د مدینی منوری اوسیدونکي علماء او پیشوایان فقط د قرآن کریم ترڅنګ د رسول الله په احادیثو او په مدینه منوره کې د میشت صحابه کرامو په آثارو بسنه وکړي. د عراق اوسیدونکي باید د هغو صحابه وو اقوال او نظریات زیات قبول کړل چې هلته موجود او ورغلي ؤ، او که په احادیثو او قرآن کې کومه فرعي فقهي مسأله پیدا نه شي د شرعي نصوصو په رڼا کې باید اجتهاد وکړي او په خپل نظر او فکر د موضوع لپاره حل راپیدا کړي.

# د څېړنې اهداف

- د فقهي مذاهبو د پېدایښت اسباب او عوامل پېژندل.
- د مذاهبو ترمنځ د اختلاف اسباب پېژندل
- په فرعي فقهي مسایلو کې اختلاف په دين اختلاف نه بلکې د دين په کمال او شموليت دلالت کوي.
- په فرعي فقهي مسایلو کې اختلاف آداب پېژندل او يو د بل خبره اورېدل .

# کړنلاره، او پوښتنې

- **کړنلاره:** مونږ په خپلې همدغې لیکنه کې د توصیفي تحلیلي میتود څخه استفاده کړی ده.
- **اصلي پوښتنه**
- مذاهب څرنګه منځ ته راغلل ؟
- د مذاهبو ترمنځ د اختلاف اسباب کوم دي؟
- **فرعي پوښتنې**
- ۱-د مذاهبو منځ ته راتللو اسباب او عوامل کوم دي؟
- ۲-ایا په فرعي فقهي مسایلو کې اختلاف یوه طبیعي غوښتنه ده؟
- ۳- په فقهي فرعي مسایلو کې اختلاف تفرقه او که د دین په کمال دلالت کوي؟

# پلیزه

1. د انسانانو تر منځ اختلاف یوه طبیعي پدیده ده چې له یو بل سره به اختلاف لري. خدای تعالی انسانان همداسې پیدا کړي دي، اشکال، رنګونه، طبیعتونه، اخلاق او ډیری کړنې د انسانانو سره یو نه دي، تور، سپین، ښځه، نر، اسیایي او افریقایي، د قومونو او نژدادونو جدایي، د فرهنګونو او کلتورونو بیلتونونه دا او دې ته ورته عوامل او اسباب شته چې انسانان به یو له بل څخه جدا فکر لري، نظریات به یې سره جدا وي. همدغه انسان په همدغو جدا خلقتونو او پیدایښتونو سره د دې تقاضا کوي چې د دوي په درک، د مفاهیمو په زدکړه او له نصوصو سره برخورد او له هغو څخه آخذ او اخیستل به یې هم متفاوت بیل او جدا وي.
2. همدغه طبیعي اختلاف باید خپل حدود او آداب ولري تر څو د ملتونو د زوال اسباب په خپل لاس برابر نه کړو، د همدغه طبیعي اختلافاتو څخه یو هم مذهبي اختلافات دي. د مذاهبو اختلاف او د هغې منځته راتلل خپل اسباب او عوامل لري. موږ د همدغه کنفرانس موضوع د مذاهبو ترمنځ د اختلاف اسباب غوره کړی ده.

3. په مسائلو کې اختلاف او یا د نظرونو اختلاف په جزئی او فرعي موضوعاتو کې د رسول الله، صحابه وو کرامو او تابعینو په دورو کې هم موجود وو چې یو څو بیلګې به یې را نقل کړو، خو په فرعي مسایلو کې اختلاف باید د اسلامي امت د وحدت او یو پارچه ګۍ د لمنځه وړلو سبب نه شي، مذهبي او فرعي اختلافات چې په اصل کې د اسلام د مبین دین د کمال او شمولیت نښه ده کله د همدې امت د زوال او لمنځه تللو اصلي علت او سبب شي.

4. موږ باید په فقهې فرعي مسایلو کې د اختلاف فرهنګ زده کړو، د مخالف لوري سره د تعامل رویه او د خبرو ګفتمان او آداب زده کړو، په همدې خاطر یو تعداد علماء وایي که کوم عالم په فقهي اختلافاتو او د هغو سره په تعامل نه پوهیږي د هغه فتوی ورکول درست نه دي.

5. عطاء رحمه لله وايي: « لاينبغی لإحد أن يفتي الناس حتي يکون عالماَ ما هو أوثق من الذي لديه». مناسب نه دي چې يو شخص فتوا ورکړي تر هغه چې په مسايلو کې په هغه څه چې ورسره دي قوي اعتماد و نه لري. د هر عالم لپاره د اسلامي امت د فقهي مذاهبو او په فرعي فقهي موضوعاتو کې يې نظريات او دلايل بايد معلوم وي همدا يوه اړينه او ضروري موضوع ده.

6. د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په زمانه کې فرعي فقهي موضوعات په دومره تفصيل او جزياتو سره نه وه بيان شوي او نه کوم ضرورت احساس کيدلای شو چې صحابه پوه شوي وه په لمانځه کې کوم فرض او کوم سنت دي؟ يا حج کوم ارکان او شرايط لري؟ هغوي د الله رسول په خپلو سترگو ليده هماغه کار به يې کاوه چې هغه مبارک به کاوه

# د مذهبونو منځ ته راتلل

- فقهي مذهب
- فقهي مذهب یو داسې علمي منهج او فکري مکتب دی چې د یوې ډلې علماوو لخوا د شریعت د متونو د فهم لپاره جوړ شوې وي. دا مذهبونه د هغو علماوو پر اجتهاد و لاړ دي چې د قرآن، سنت، اجماع او قیاس پر اساس د اسلامي احکام استنباط کوي.

د مذهبونو د منځ ته راتللو موضوع ته که وکتل شي او اصلی منشأ او تهداب یې راوسپړو له هغه ځایه باید شروع کړو چې په لومړي ځل دوه دیدګاه یا دوه مدرسی( د أهل رائي او أهل حدیثو) رامنځ ته شوې.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلام) په عصر او بیا د هغه له وفات څخه وروسته خاصتاً د دوهم خلیفه حضرت عمر(رضی الله عنه) د خلافت په دوران کې کله چې صحابه کرام د نړۍ مختلفو هیوادونو ته و کوچیدل هلته یې د خپلو دیني معلوماتو په رڼا کې فتوا وی ورکولی.

- هندی عالم امام شاه ولي الله دهلوي (رحمه الله) وايې: د تابعينو د زمانې څخه وروسته خلکو همدا علم د خپلو هغو علماوو څخه زده کړ چې دوی ورسره نژدی پاتی شوي وه. د اوداسه، غسل، لمانځه، حج، نکاح، اخيستلو او خرڅولو او نور ټول هغه مسايل يې زده کړل چې د هغی زيات پيښيدل ممکن و، د رسول الله(صلی الله عليه وسلم) احاديث يې روايت کول، د خپلو ملکونو د قاضيانو او مفيتانو فيصلی يې اوريدی او په راتلونکې کې همدوی لوی مفتيان او قاضيان جوړ شول. دوي هم د خپلو شيوخو او خپلو استادانو په لار روان شول.

- د دوي روش او طريقه دا وه چې د رسول الله په احاديثو به يې استدلال کاو، د صحابه وو او تابعينو اقوال به يې دليل نيول، که د رسول الله په احاديثو کې به له مشکل سره مخ شول د صحابه وو اقوالو ته به يې رجوع کوله او بيا د تابعينو او تبع تابعينو اقوال به يې اخيستل او بلاخره به مجبور شول د خپلې منطقي د مجتهدينو او علماوو اقوال قبول او عمل پرې وکړي.

# د دوه مدرسو يا فکرونو منځ ته راتلل

- په همدغه دوره کې دوه مدرسې( اهل حديث او اهل رائی) يا دوه فکره ايجاد شول يو د مديني منورى مدرسه او هم فکره و چې هغوی د هغو اصحابو اقوالو ته ډيره توجه کوله چې په مدينه منوره کې اوسيدلي وه لکه: د حضرت عمر، عثمان، عايشی، ابن عمر، ابن عباس، زيد ابن ثابت، سعيد ابن مسيب، ابوهريره، عروة، سالم، عکرمه.......... (رضى الله عنهم)موږ امام مالک(رحمه الله) ګورو چې اقوال او مذهب يې ټول د هغو صحابه او تابعينو په اقوالو بنا دې چې په مدينه منوره کې اوسيدل. چې د همدغي مدرسی يا افکارو خاوندان د ( أهل الحديث) په نامه و نومول شول.

د کوفي خلکو ته بیا دهغه صحابه کرامو او تابعیینو لکه: عبدالله ابن مسعود، حضرت علي، حضرت شریح، شعبي....( رضی الله عنهم) د منلوو او اعتماد وړ وه ځکه همدوي د عراق او یا کوفی په طرف راغلي وه، همدغه مدرسه بیا د (أهل رائی) د مدرسی په نامه و نومول شوه.

یو له هغه صحابه کرامو څخه چې په نظر او رایه ورکولو مشهور وو هغه حضرت عمر(رضی الله عنه) وو هغه کله چې کومه مسأله راپیښه شوه ضرور ورته حل پیدا کاوه هغه د خپل خلافت په دوران کې حضرت عبدالله ابن مسعود کوفی ته ولیږه او د کوفی خلکو ته یې داسی ولیکل: « إني بعثت إليكم بعبدالله بن مسعود معلماً و وزيراً و آثرتكم به على نفسي فخذوا عنه».

- عبدالله ابن مسعود(رضی الله عنهما) د حضرت عمر(رضی الله عنه) په نقش قدم دقیق روان و. په کوفه کې بل جلیل القدر صحابي حضرت علي (رضی الله عنه) بصره کې مشهور صحابي ابوموسی اشعري او انس ابن مالک(رضی الله عنهم) موجود وو له دوي څخه وروسته تابعین لکه: علقمه، اسود، مسروق، شریح، شعبي، النخعي، سعید بن جبیر، ابو الحسن بصري، محمد بن سرین راپیدا شول دا هماغه لومړني اشخاص وو چې د أهل رأیی د مدرسی بنیاد او تهداب یې کیښود، چې لهمدغی څخه وروسته حنفي مذهب را و ټوکیده.

د أهل رائيی د مدرسی د ایجاد لپاره خاص عوامل او اسباب وو:

۱-د عبدالله بن مسعود(رضی الله عنهما) موجوديت په کوفه کې چې هغه د حضرت عمر(رضی الله عنه) په نقش قدم روان وو.

۲-د حدیثو کم موجوديت يا لږ رسيدل د عراق خلکو ته نسبت د حجاز خلکو ته.

۳- عراق د اهل فارس يا فراسيانو سره نژدی پروت او د هغوي سره يې اړيکې زياتاى وي او هغوي به جزيی فرعي مسايل زيات مطرح کول.

۴-عراق د اهل تشيع او خوارجو مرکز او وطن و، دلته موجود علماء مجبور وو د احاديثو په باره کې ډير زيات احتياط وکړي. په يوه حديث باندی به يې زيات موضوعات تفريع کول. ابراهيم النخعي (رحمه الله ) وايي: « إِنِّي لَأَسْمَعُ الْحَدِيثَ وَأَقِيسُ عَلَيْهِ مِائَةَ شَيْءٍ ». ( زه يو حديث اورم او په هغې باندی سل شيان قياس کوم.

## د أهل حديثو مذهب په حجاز کې

د مديني منورى خپل فضيلت او منزلت دى په هغې بحث نه کوم، هلته ميشت صحابه زيد بن ثابت او عبدالله بن عمر(رضى الله عنهما) د نورو په سر کې واقع او خلکو ته يې فتواوى ورکولى، د دوى سره جوښت د نورو ډير تابعينو تر څنګ جليل القدر تابعى سعيد بن المسيب(رحمه الله) را څرګند او دهمدوئ په نقش قدم روان شو. د رسول الله احاديث يې راټول او د صحابه وو آثار يې را جمع کړل، د دوي روش او تګ لورى معلوم وو په هره مسأله کى به چې آيات د رسول الله احاديث د صحابه وو اقوال موجود نه وه هلته به يې توقف کاوه، په خپله رايه او نظر به يې فتواوى نه صادرولى.

# د اهل سنت څلور مشهور مذاهب

**حنفي مذهب**

مؤسس: امام ابو حنیفه نعمان بن ثابت (۸۰-۱۵۰هـ)

ځانګړتیاوې: د عقل او قیاس پراخ استعمال، د عراق د کلتوري اغېزو انعکاس.

د پیروانو سیمې: افغانستان، پاکستان، هند، ترکیه، مصر، منځنۍ آسیا.

**مالکي مذهب:** مؤسس: امام مالک بن انس (۹۳-۱۷۹هـ)

ځانګړتیاوې: د اهل مدینې عمل ته ډېر ارزښت ورکوي.

د پیروانو سیمې: شمالي افریقا (الجزایر، مراکش، تونس)، سوډان، مالي

**شافعي مذهب**

مؤسس: امام محمد بن ادريس الشافعي (۲۰۴-۱۵۰هـ)

ځانګړتیاوې: د اصول الفقه بنسټ ایښودونکی، د نصوصو او قیاس تر منځ اعتدال.

د پیروانو سیمې: مصر، اندونیزیا، مالیزیا، یمن، شامي سیمې.

**حنبلي مذهب**

مؤسس: امام احمد بن حنبل (۲۴۱-۱۶۴هـ)

ځانګړتیاوې: د حدیثو ژوره پابندي، احتیاط او زهد.

د پیروانو سیمې: سعودي عربستان، خلیجي هېوادونه

# شیعه فقهي مذاهب

**جعفري مذهب**

مؤسس: امام جعفر الصادق (۱۴۸-۸۳هـ)

ځانګړتیاوې: د عقل استعمال ته پراخ ځای ورکوي، اهل بیتو ته ځانګړې مینه.

د پیروانو سیمې: ایران، عراق، لبنان، بحرین.

نور مذاهب چې وخت سره لمنځه تللي دي:

ظاهري مذهب (د امام داوود ظاهري لخوا)

اوزاعي، لیث بن سعد، او نور کوچني مذهبونه

- عباسي خليفه منصور کله چې حج ته لاړ امام مالک(رحمه الله) ته يې وويل: ستا موطا کتاب به د اسلامي خلافت په ټولو فيصلو کې په قاضيانو لازمي کړم، امام ورته وويل: ای خليفه دا کار ځکه مه کوه چې خلکو ته ډير احاديث، روايت او اقوال رسيدلي بيا به يې ترمنځ اختلاف راشي، ځينی علماوو همدغه واقعه هارون الرشيد ته نسبت کړی خو امام مالک(رحمه الله) مشوره داوه چې د هر ملک او هر ښار خلک پريښودلی شي په هماغه روش لاړ شي چې ورته رسيدلی دی.

امام مالک(رحمه الله) د مدینی منوری د اوسیدونکو صحابه وو روایت کړي احادیثو باندی عمل پیل کړ ځکه هغه په مدینه منوره کې میشت وو او امام ابوحنیفه(رحمه الله) د ابراهیم نخعي په روایاتو تکیه وکړه، د امام څخه وروسته د هغه مشهور شاګرد امام ابویوسف(رحمه الله) د هارون الرشید په وخت کې لوی قاضي و ټاکل شو چې په ټول اسلامي قلمرو کې یې حنفي فقه په محاکمو کې لازمي کړه، د هغه ترڅنګ امام محمد ابن حسن شیباني (رحمه الله) په حنفي مسلک کې زیاتی لیکني وکړی چې د حنفی مذهب او مسلک د شهرت او خپرواي باعث شول.

امام محمد بن حسن شیباني(رحمه الله) د حنفي مذهب کتابونه او نظریات ولوستل او بیا مدینی منوری ته لاړ موطا د امام مالک(رحمه الله) یې ولوستله کله چې بیرته عراق ته راستون شو د حنفي فقه او نظریاتو مقایسه یې د موطاء سره وکړه. امام محمد(رحمه الله) د ابراهیم، امام ابوحنیفه او امام ابویوسف(رحمهم الله) اقوال را ټول او کتانونه یې ولیکل چې همدغه لیکن په خراسان او ماوراءالنهر کې مشهوری او حنفي مذهب تری جوړ شو.

- يو تعداد علماء د سعيد ابن مسيب، ابراهيم نخعي، امام زهرى، د امام مالک او سفيان سوري (رحمهم الله) په وخت او زمانو کې وه هغوي به فتوا ورکول نه خوښول تر هغو به يې فتوا نه ورکوله مګر چې ډير زيات ضرورت به ورته پيښ شو.

# اختلاف

- د اختلاف کلمی مختلفی معناګانې شوي چې زموږ مطلوب معنی هغه د چې دمخالفت په معنی استعمال شوي، د مخالفت په معنی « فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ » التوبه 81
- اصطلاح کې: اذا ذهب کل واحد الی خلاف ما ذهب الیه الاخر – فالخلاف ضد الوفاق . چې هر شخص لاړ شي په مخالف لوري د هغه شخص چې هغه ورته تللی دی.

# د اختلاف انواع

لومړی: اختلاف د حکم په اساس

دا په دوه ډوله ده- جایز او حرام یا مقبول او مذوم: د جایز مثال یې لکه د مجتهدیونو اختلاف او د حرام مثال: چې د یوه صحیح دلیل مقابل کې د تعصب، عناد او جهل په اساس بنا شوې وي.

دوهم: اختلاف د حقیقت په اساس:

اختلاف تنوع او اختلاف تضاد یا ضد ته تقسیم شوې. اختلاف تنوع چې یو دبل ضد نه وي لکه: جمع، مفرد یا وه ګونه قرائتونه. او اختلاف تضاد چې په حقیقت کې یو د بل ضد وي، لکه: په قهقه خندا د اوداسه ماتیدل او نه مادتیدل.

دریيم: اختلاف په اعتبار د نتیجې یا ثمرې سره اختلاف معنوي او اختلاف لفظي ته تقسیم شوې

معنوي اختلاف لکه حرام او حلال. موسيقي حرامه ده او بل وايې حلاله ده. او اختلاف لفظي چې کوم خاص نتايج پرې نه مرتب کيږي، لکه تحيت المسجد مندوب ده او بل شخص ووايې تحيت المسجد مستحب ده.

ځلورم: اختلاف په اعتبار د ثابت والي او طارء یا موقتي

هغه اختلاف چې ثابت ده او هغه اختلاف چې موقتي ده.

- ثلورم: اختلاف په اعتبار د ثابت والي او طارء يا موقتي
- اختلاف ثابت يا اختلاف ذاتي هم ورته ويل شوي. دا يو نوع اختلاف دی چې هيڅ کله لمنځه ځکه نه ځي چې قطعي دليل موجود نه وي نو مصيب او مخطی مجتهد دواړه يو شان وي، په حقيقت يې فقط خدای تعالی پوهيږي.
- اختلاف طارء: يا ناګهاني عبارت له هغه اختلاف دی چې کله يې اسباب لمنځه ولاړل همدا اختلاف لمنځه ځي لکه: هغه اختلاف چې د جهل او يا کم علمۍ په اساس منځته راغلی وي.

پنځم: اختلاف په اساس د معتبر والي او عدم معتبر والي

هغه اختلاف چې معتبر ده او هغه اختلاف چې هیڅ اعتبار نه لری.

اختلاف معتبر عبارت دی له هغه اختلاف دی چې مجتهد له طرف په ظني او غیر منصوصی فرعي مسایلو کې اختلاف شوې وي. او اختلاف غیر معتبر: یا خو د مجتهد لخوا اختلاف نه وي او یا په داسې موضوع کې اختلاف کول وي چې هغه د اجتهاد وړ نه وي.

# د فقهي فرعي اختلاف اسباب

- د رسول الله او صحابه کرامو په وخت کې د فقهي اختلاف نمونې:
- عبدالله ابن عمر ښځو ته د غسل په وخت د کمڅیو د خلاصولو امر وکړ خو حضرت عایشې(رضی الله عنها) وویل: خدای تعالی دې په ابن عمر رحم وکړئ ما او د خدای تعالی رسول له یو لوښي غسل کاوه خو ما کمڅۍ نه وې خلاصې کړې.
- د تیمم طریقه او روش یې هم یوه موضوع وه.
- دلته د اختلاف خپل اسباب وه چې د تفصیل یې دا ځای نه دی.

# د اختلاف اسباب

د علماوو ترمنځ دا  موضوع اختلافي ده چې اسباب د اختلاف محدد دي او که غیر معلوم؟ یو تعداد علماء وایې اسباب د اختلاف غیر محصور دي تعداد یې معلوم نه دی خو نور بیا همدغه اسباب محصور بولي ځوک یې چې محصور بولې د هغوي ترمنځ د نظر اختلاف شته خو په اکثرو اوقاتو کې لږ سره تداخل وي.

- لومړی قول
- امام ابن تیمیه (رحمه الله) د اختلاف اسباب په دوه برخو ویشلي
- لومړی: هغه چې مجتهد او د هغه فهم او درک ته راجع کیږي.
- دوم: هغه چې نص ته راجع کیږي.

همدغه تقسیم نورو علماوو کړې خو په نورو عبارتونو.

# د اختلاف اسباب اته دي

1 - لفظ مشترک وي – د قرء لفظ د حيض او طهارت لپاره

2 – حقيقت او مجاز- د ميزان لفظ حقيقتاً د ترازه لپاره استعمال شوې او مجازً د عدل او انصاف لپاره(والسماء رفعها ووضع الميزان، ألا تطغوا في الميزان، وأقيموا الوزن بالقسط ولا تخسروا الميزان)«الرحمن 7 9».

3 – مفرد او مرکب: په ځينې ځايونو کې يوه موضوع له نورو موضوعاتو سره مشترکه ذکر شوې وي او په بعض ځايونو کې تنها او يواځې هماغه يوه مضوع رانقل شوې وي.

4 – خاص او عام: لکه د انسان لفظ کله خاص ذکر شوې او کله عام ياايها الانسان ما غرک بربک الکريم، ان الانسان لفي خسرالا الذين آمنوا وعملوا الصالحات

5 – روایت او نقل کول

6 – داجتهاد  او قیاس کولو له وجه اختلاف، یو تعداد قیاس کوي نور بیا اجتهاد کوي.

7 – ناسخ او منسوخ.

8 – مباحوالی او پراخي.  دا هغه ځایونه دي چې شارع مباح پریښي د پراخی او سهولتونو په خاطر لکه قراءات سبعه

# درېيم قول

- لومړي- عقيده يې نه وي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ويلي دي.
- دوهم – عقيده يې نه وي چې له دغه قول څخه به همدغه مسأله يا موضوع مطلب وي.
- درېيم – عقيده لري چې همدا حکم منسوخ شوې.

# څلورم قول: همدغه اسباب شپاړس دي.

1. د لايلو تعارض
2. جهالت يا په دليل نه پوهيدل
3. اختلاف په صحت د نقل د حديث کې
4. اختلاف د دليل په نوعيت کې، آيا حجيت پرې نيول کيږي يا نه؟
5. اختلاف په اصولي قاعده کې لکه د مطلق حمل کول په مقيد باندی.
6. اختلاف د قرآن كريم په قراءاتو کې
7. اختلاف په روايت د الفاظو د احاديثو کې لکه: كقوله -صلى اللَّه عليه وسلم-: "ذَكَاةُ الْجَنِينِ ذَكَاةُ أُمِّهِ
8. اختلاف په وجه د اعراب کې سره د اتفاق په روايت د حديث کې لکه: مثل قوله عليه السلام: "أَكْلُ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ حَرَامٌ اختلاف وجه الإعراب مع اتفاق القراء في الرواية، مثل قوله عليه السلام: "أَكْلُ كُلِّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ حَرَامٌ" (1)، فبعضهم جعل الأكل مصدرًا مضافًا إلى المفعول، فحرم أكل السباع، وبعضهم جعله مضافًا إلى الفاعل بعد قوله تعالى: {وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ} [المائدة: الآية 3] فأجاز أكل السباع.

9. لفظ د دوه یا څو معناګانو ترمنځ مشترک وي لکه:{ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ} [البقرة: الآية 228] فحملها مالك والشافعي على الإطهار وأبو حنيفة على الحيض لاشتراك اللفظ بين المعنيين.

10. اختلاف عموم او خصوص کې بعض یو لفظ په عمومیت حمل کوي او نور یې بیا په خصوصیت لکه:: {وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ} [النساء: الآية 23] يحمل على الزوجات والمملوكات أو على الزوجات خاصة.

11. اختلاف د لفظ په حقیقت او مجاز کې

12. اختلاف په دې کې چې آیا په کلام کې مضمر شته او که نشته؟ كقوله تعالى: {فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ} [البقرة: الآية 184] فعله الجمهور علىَ إضمارَ (فأفطر) خلافاً للظَاهريَة.

13. اختلاف په دې کې چې آیا حکم منسوخ شوی که نه؟

14. اختلاف د امر په صغیه کې د وجوب لپاره ده او که د ندب لپاره؟

15. اختلاف آیا نهي د تحریم او که د کراهیت لپاره ده؟

16. اختلاف د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په کړنو کې آیا واجب دی که مستحب

# پنځم نظر

اختلاف به يا په مستقلو موضوعاتو او مسايلو کې وي او يا په فروعو کې چې په اصول بنا شوې وي.

که اختلاف په مستقلو موضوعاتو يا مسايلو کې وو هغه بيا خپل اسباب لري چې عبارت دي له:

لومړې: لفظ به مشترک وي د دوه منعاګانو په منځ کې لکه د قرء لفظ چې حيض يا طهرات د دواړو ترمنځ يو مشترک لفظ دی.

دوهم - کله بيا اختلاف په دې کې وي چې ضمير څه شی ته راجع شوې.

دریيم : " اختلاف د دي په خاطر چې يو آيات په بل پوري ارتباط لري. لکه:{وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْرًا} مع قوله تعالى : {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ}.

څلورم : د يوه مقابل دليل څخه ناخبري يا غفلت دليل په عموم حمل کوي او ورته د خصوصيت دليل نه وي معلوم.

ويمثل لهذا القسم بما روى عبد الوارث بن سعيد قال : قدمت مكة فلقيت أبا حنيفة وابن أبي ليلى وابن شبرمة فسألت أبا حنيفة عن رجل باع بيعا وشرط شرطًا فقال: البيع باطل والشرط باطل ، فأتيت ابن أبي ليلى فقال : البيع جائز والشرط باطل ، فأتيت ابن شبرمة فقال: جائزان، فقلت سبحان الله ؟ فقهاء القرآن لا يتفقهون على مسألة واحدة.

فعدت إلى أبي حنيفة [رضي الله عنه] فأخبرته بقولهما فقال : ما أدري ما قالا حدثني عمرو بن سعيد عن أبيه عن جده قال : نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيع وشرط.

فعدت إلى ابن أبي ليلى فأخبرته فقال : ما أدري ما قالا حدثني هشام بن عروة ، عن أبيه عن عائشة رضي الله عنها قالت : "أمرني رسول الله صلى الله عليه وسلم أن أشتري بريرة فأعتقها" البيع جائز والشرط باطل.

فعدت [إلى ابن أبي]1 شبرمة فأخبرته فقال : حدثني معد بن كدام عن محارب بن دثار عن جابر قال : بعث النبي صلى الله عليه وسلم جملاً وشرطت حملاته إلى المدينة. البيع جائز والشرط جائز.

پنځم : اختلاف د عموم او خصوص په سبب

نحو : {وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ} قيل عامة وقيل مخصوصة فقِيل لحَديث : "إن الله تَجاوز عَن أمتي ما حدثت به أنفسها ما لم تتكلم أو تعمل".

وقالت عائشة رضي الله عنها : "بل الكافر يؤاخذ بإسراره وإعلانه".

شپږم: اختلاف د راوي په سبب چې ضعيف ده يا مرسل، مشكل را وي كې وي.

اووم : اختلاف د اجتهاد په سبب: د يوه مجتهد اجتهاد يو قسم وي او د بل اجتهاد بل قسم وي.

اتم: اختلاف په علت كې، علت څه شی ده؟ قدر كه جنس.

# شپږم- غوره نظر راته ښکاري

أحمد بن حمدي الصاعدي، أسباب اختلاف الفقهاء في الفروع الفقهية

1. اختلاف په اعتبار د ثبوت د نص او نسبت يې شارع ته. کله چې نص ثابت شو بيا خو په عمل کولو کې يې اختلاف نه وي خو په ثبوت کې يې اختلافات وي چې نص ثابت شوې که نه؟
2. اختلاف په اعتبار د فهم او درک د نص کې وروسته له ثبوت څخه لکه د يوه مشترک لفظ په مفهوم درست پوهيدل.
3. د نصوصو د قواعدو په تفسير کې اختلاف لکه: اختلاف د قرآن کريم د عام تخصيص په خبر واحد سره.
4. په بعض اصولو او تبعي مصادرو کی اختلاف: هغه مصادر چې احکام ترې اخيستل کيږي په درې ډوله دي.

١-اتفاقي

٢-هغه مصادر چې لږ اختلاف پکې شته لکه: اجماع او قياس

٣-اختلافي مصادر لکه: استحسان، استصحاب، مصالح مرسله، عرف، قول صحابی، شرايع من قبلنا

5. اختلاف په هغه مواردو کې چې هلته نص موجود نه وي او شارع سکوت کړی وي. دلته مجتهدین اجتهاد کوې او ترمنځ یې اختلاف راپیدا کیږي.

6. اختلاف په اعتبار د تعارض د دلایلو سره. په شرعي دلایلو کې اصلاً تعارض او ټکر نه وي خو هغه تعارض اصلاً د مجتهد په نظر کې وي چې یو مهم شی ورته معلوم نه وي. یو شخص مسجد ته د سهار لمانځه وروسته داخلیږي مخکې له دې چې لمر راو خیژی اوس دوه رکته تحیة المسجد وکړي که نه؟

7. اختلافات په بعضي فقهي اصطلاحاتو کې. بعضی فقهي اصطلاحات لکه: فرض، واجب، باطل، فاسد او دې ورته په ځنې مذاهبو کې همدغه اصطلاحات شته او په نورو کې بیا په همدغو اصطلاحاتو کې سره تداخل موجود دی.

# د اختلاف حکمت او ارزښت

په اسلامي تاریخ کې د فقهي مذاهبو ترمنځ اختلاف یوازې یو علمي پدیده نه ده، بلکې یو الهي رحمت او د امت د انعطاف نښه هم ده. دا اختلاف د فتنې نه، بلکې د حکمت، تنوع، او پراخ فهم نښه ده.

دلته د اختلاف ځینې حکمتونه او ارزښتونه بیان کوو:

**.1اختلاف د امت د تنوع او انعطاف علامه ده:**

امت اسلامي په جغرافیوي، کلتوري، او فکري لحاظ متنوع دی.

د مذاهبو اختلاف دا تنوع منظموي، نه دا چې تفرقه رامنځته کړي.

**.2د اجتهادي اختلاف وجود، د شریعت د پراخوالی نښه ده:**

شریعت د هر زمان او مکان د حالاتو لپاره حل لري.

اختلاف دا ښیي چې شریعت سخت نه دی، بلکې د مختلفو حالاتو مطابق حلونه لري.

**.3علمي اختلاف د فقهي پرمختګ لامل دی:**

که اختلاف نه وای، فقه به یوازې محدود نظر ته متکي وای.

دا اختلاف علما هڅولي چې د دلایلو ژور تحلیل وکړي.

- **4.اختلاف د زغم، ادب، او د تعصب نه د ژغورنې سبب دی:**
- که اختلاف ومنو، نو د نورو رایو ته درناوی پیدا کوو.
- د علماوو ترمنځ د اختلاف ادب باید زده کړو.
- **5.نبي کریم ﷺ د اجتهادي اختلاف درناوی کړی:**
- د «بني قريظه» د مازدیګر لمونځ د مثال له مخې، نبي ﷺ دواړو رایو ته درناوی وکړ.
- روایت:
"لا يصلين أحد العصر إلا في بني قريظة".
ځینو لمونځ وځنډاوه، ځینو مخکې وکړ – نبي ﷺ دواړه تایید کړل.

پای

له توجه مو نړی مننه